مرکز مطالعات استراتژیک و منطقوی
د ستراتېژيکو او سيمه‌ييزو څېړنو مرکز

# تحلیل هفته

**شماره: ۱۵۲** (از ۳ الی ۱۰ دلو ۱۳۹۴ هـ ش)

**این نشریه مجموعهٔ تحلیل رویدادهای مهم سیاسی و اقتصادی هفته‌وار است که به زبان‌های پشتو، دری، انگلیسی و عربی، توسط مرکز مطالعات استراتژیک و منطقوی تهیه و نشر می‌گردد، تا نهادهای سیاست‌گذار از آن استفاده نمایند.**

## آنچه در این شماره می‌خوانید:

- مقدمه........ ۲

**کنفرانس پگواش و تمایل طالبان به آغاز گفتگوهای صلح**

- پیشینهٔ نشست‌های پگواش........ ۴
- کنفرانس اخیر پگواش........ ۵
- پیش شرط‌های طالبان........ ٦
- تنازل در موقف طالبان........ ۷
- واکنش حکومت افغانستان........ ۸
- کنفرانس پگواش و مذاکرات چهارجانبه........ ۹
- چه باید کرد؟........ ۹

**افغانستان؛ د نړۍ دويم فاسد هېواد**

- په افغانستان کې اداري فساد ته لنډه کتنه........ ۱۱
- د اداري فساد په اړه د روڼتيا نړيوال سازمان سروې‌ګانې........ ۱۲
- د حکومت غبرګون........ ۱۴
- د اداري فساد پر ضد د حکومت ناهمغږي کړنلاره........ ۱۴

## مقدمه

تېره اوونۍ د قطر په پلازمېنه دوحه کې د پګواش نړیوال سازمان له خوا د افغانستان د قضیې په تړاو دوه‌ورځنی کنفرانس جوړ شو. په دغه کنفرانس کې طالبانو رسما ګډون کړی و او د افغانستان ترڅنګ له یو شمېر نورو هېوادونو څخه هم بېلابېلو شخصیتونو ګډون کړی و. طالبانو په دغه کنفرانس کې د سولې مخامخ خبرو ته مشروط چمتووالی وښود او د خبرو اترو د پیل لپاره یې یو شمېر شرطونه وړاندې کړل.

دا کنفرانس داسې مهال جوړېږي، چې د افغانستان د سولې بهیر د بیا پیل په موخه د افغانستان، پاکستان، چین او امریکا د څلور اړخیزو خبرو اترو دویمه ناسته د جنورۍ په ۱۸مه په کابل کې ترسره شوه او ټاکل شوې چې دریمه ناسته یې هم د فبرورۍ په ٦مه په اسلام‌آباد کې جوړه شي. همدا لامل و چې افغان حکومت د پګواش له ناستې سره موافق نه و او هلته یې هېڅ رسمي استازی ونه لېږه. د تحلیل په لومړۍ برخه کې په همدې موضوع شننه لولئ.

د تحلیل په دویمه برخه کې د اداري فساد په اړه د روڼتیا د نړیوال سازمان د وروستي راپور په اړه لولئ. د روڼتیا نړیوال سازمان په "نړۍ کې د فساد انګېرنې ۲۰۱۵" راپور کې، چې د چارشنبې په ورځ خپور شو، افغانستان، شمالي کوریا او سومالیا د نړۍ په ۱٦۷ هېوادونو کې تر ټولو فاسد هېوادونه پېژندل شوي او افغانستان پکې دویم ځای خپل کړی دی. که څه هم ملي وحدت حکومت په لومړیو کې د اداري فساد پر ضد یو شمېر چټک ګامونه اوچت کړل، خو په ټوله کې د تېر کال په اوږدو کې د حکومت کړنې په دې برخه کې همغږې نه وې او له همدې کبله یې د ټولې نړۍ په کچه دویم ځای خپل کړی دی.

په دې ګڼه کې پر همدغو موضوعاتو د ستراتېژیکو او سیمه‌ییزو څېړنو مرکز د اوونیز تحلیل د څانګې، شننې او څېړنې لولئ.

# کنفرانس پگواش و تمایل طالبان به آغاز گفتگوهای صلح



پس از دومین نشست گفتگوهای چهارجانبۀ صلح، مؤسسۀ بین‌المللی پگواش به تاریخ ۲۳ و ۲۴ جنوری ۲۰۱٦ کنفرانس دو روزه‌ای را به منظور یافتن راه‌حل بحران افغانستان و آغاز گفتگوهای صلح در این کشور، در دوحه پایتخت قطر میزبانی کرد. در این کنفرانس به شمول نماینده‌گان طالبان، ۵۵ نفر اشتراک ورزیدند و طالبان موقف خود در مورد گفتگوهای صلح را تصریح کردند.

این بار نخست نیست که در کنفرانس پگواش قضیۀ صلح افغانستان مورد بحث قرار می‌گیرد، در گذشته نیز کنفرانس‌های مشابه توسط این مؤسسه، راه‌اندازی شده است. هدف مؤسسۀ پگواش از چنین نشست‌ها اعتمادسازی میان جهت‌های متنازع است.

سوال اینجاست که آیا در موقف طالبان نسبت به گفتگوهای صلح تغییر آمده است؟ همچنان مهم‌ترین نکاتی که در کنفرانس اخیر پگواش ابراز شد، چه بود؟

## پیشینۀ نشست‌های پگواش

کنفرانس‌های متعدد برای یافتن راه‌حل بحران افغانستان، در کشورهای مختلف از جمله در امارات متحدۀ عربی، قطر، جاپان و فرانسه برگزار شده است که طالبان و شماری شخصیت‌ها از افغانستان و سایر کشورها در آن‌ها اشتراک داشتند. یکی از برگزار کننده‌گان این‌گونه نشست‌ها سازمان غیردولتی پگواش است، که در سال ۱۹۹۵برای تلاش‌های میانجیگرانه‌اش در منازعات، جایزۀ نوبل را نیز دریافت کرده است. این مؤسسه تاکنون چهار کنفرانس را در مورد قضیۀ صلح افغانستان در دبی و دوحه برگزار کرده است.

**کنفرانس دبی:** نخستین کفرانس مؤسسۀ پگواش به تاریخ ۲۲ و ۲۳ سپتامبر سال ۲۰۱۲ در دبی برگزار شد. در آن کنفرانس شخصیت‌های مختلف از ملل متحد، افغانستان و سایر کشورها اشتراک ورزیده بودند. همه اشتراک کننده‌گان آن نشست توافق داشتند که صلح نه تنها برای افغان‌ها ارزش حیاتی دارد، بلکه برای پشرفت و آسایش منطقه نیز یک نیاز جدی پنداشته می‌شود.

در کنفرانس دبی، مواد قانون اساسی افغانستان نیز به منظور تامین صلح در کشور، قابل بحث خوانده شد و در مورد خروج نیروهای خارجی از افغانستان، آتش‌بس و موضوعات دیگر بحث و تبادل نظر صورت گرفت. اشتراک کننده‌گان آن نشست در مورد اینکه صلح در افغانستان به نفع همه افغان‌هاست هم‌نظر بودند.[1]

مشکل اولین کنفرانس پگواش در دبی این بود که در آن کنفرانس نماینده‌گان رسمی طالبان اشتراک نداشتند و به جای آن‌ها شخصیت‌هایی چون ملا معتصم آغاجان که قبلاً از صف طالبان جدا شده بود، شرکت کرده بودند.

**کنفرانس دوم دبی:** کنفرانس دوم پگواش نیز به تاریخ ۱۵ و ۱۷ جنوری سال ۲۰۱۳ در دبی برگزار شد. در این کنفرانس به علاوۀ تکرار فیصله‌های کنفرانس گذشته، روی موضوعات جدید نیز بحث صورت گرفت.

در کنفرانس دوم دبی، آزادسازی زندانیان طالبان نخستین گام اعتمادسازی پنداشته شد. روی جلوگیری تلفات ملکی تاکید صورت گرفت و شرکت کننده‌گان توافق داشتند که در افغانستان صلحاً میز جایی برای خارجی‌ها وجود ندارد و اعضای گروه القاعده در کشور حضور نخواهد داشت.

در این کنفرانس به منظور اعتمادسازی میان جهت‌های درگیر، بیرون شدن نام‌های طالبان از لیست سیاه ملل متحد، گشایش دفتر رسمی برای طالبان در دوحۀ قطر و اشتراک همه گروه‌ها و احزاب سیاسی در پروسۀ صلح، به عنوان نخستین گام‌ها برای آغاز پروسۀ صلح شمرده شد.[2]

[1] اعلامیۀ پگواش در مورد کنفرانس دبی را در اینجا بخوانید:
/http://pugwash.org/2012/09/24/dubai-meeting-on-afghanistan

**کنفرانس قطر:** کنفرانس سوم پگواش برای یافتن راه‌حل بحران افغانستان به تاریخ ۲ و ۳ ماه می سال ۲۰۱۵ در قطر برگزار گردید که در این کنفرانس نیز نقاط مهم فیصله‌ها و اعلامیه‌های نشست‌های قبلی یک بار دیگر تکرار شد و در کنار آن، چندین نقاط جدید نیز ابراز شد. در این کنفرانس فساد اداری و کشت کوکنار به عنوان مشکلات جدی در کشور یاد شد. همه جهت‌ها روی اهمیت حقوق و آموزش زنان تاکید کردند و گروه داعش یک پدیدۀ بیگانه از عنعنات و خواسته‌های مردم افغانستان خوانده شد.[3] در این کفنرانس اعضای دفتر سیاسی طالبان در قطر نیز شرکت داشتند.

## کنفرانس اخیر پگواش

کنفرانس اخیر پگواش به تاریخ ۲۳ و ۲۴ ماه جنوری ۲۰۱٦ در دوحه پایتخت قطر برگزار گردید که نماینده‌گان طالبان رسما در آن شرکت کردند. طالبان در این کنفرانس، پس از برگزاری دو دور نشست‌های چهارجانبه میان افغانستان، پاکستان، چین و امریکا، موقف خود را در مورد پروسۀ صلح بیان نمودند.[4]

در این کنفرانس در کنار نماینده‌گان غیر رسمی از کابل، ۱۵ نمایندۀ طالبان اشتراک کردند. هرچند این یک نشست غیررسمی بود، اما حکومت افغانستان به دلیل مخالفت با این نشست، هیچ نماینده‌ای را اعزام نکرد. برخی حلقات حکومت در کابل گفته بود که کنفرانس دوحه، ابتکارات تازۀ حکومت افغانستان (مذاکرات چهارجانبه) برای صلح را تضعیف می‌کند. ولی با آن هم قیوم کوچی کاکای رئیس جمهور غنی، مقامات بلندرتبۀ حکومت پیشین، اعضای پارلمان، فعالانی مدنی و افرادی از اپوزیسیون حکومت اشتراک ورزیدند.

نکات مهمی که در این کنفرانس ابراز شد، قرار ذیل بود:

- جنگ باید خاتمه یابد؛
- نیروهای خارجی باید از افغانستان بیرون شوند؛
- شماری از شرکت کننده‌گان کنفرانس گفتند که قانون اساسی باید تعدیل شود. شماری نیز گفتند که قانون اساسی جدید ساخته شود. در نشست‌های آینده روی طرح‌های تعدیل قانون اساسی بحث‌ها و گفتگوها صورت خواهد گرفت.

---

[2] اعلامیۀ پگواش در مورد کنفرانس دوم دبی را در اینجا بخوانید:
/http://pugwash.org/2013/01/17/summary-of-the-pugwash-meeting-on-afghan-reconciliation-dubai-15-17-january-2013

[3] اعلامیۀ پگواش در مورد کنفرانس قطر را در اینجا بخوانید:
/http://pugwash.org/2015/05/04/doha-meeting-on-security-in-afghanistan

[4] اعلامیۀ پگواش در مورد کنفرانس اخیر در قطر را در اینجا ابخوانید:
http://pugwash.org/2016/01/24/doha-meeting-on-peace-and-security-in-afghanistan/

- کشورهای دیگر سیاست افغانستان را در کنترول خود نگیرند، بلکه آنان باید در بخش‌های تخنیکی، اقتصادی و فرهنگی همکاری نمایند.
- برای افراد و گروه‌هایی که گفتگوهای صلح را به پیش می‌برند، باید موانع ایجاد نشوند. نام‌های طالبان از لیست سیاه بیرون شوند و برای اشتراک در چنین نشست‌ها برای آنان ویزه صادر شود و طالبان باید یک آدرس مشخص برای گفتگوهای صلح داشته باشند؛
- برای گفتگوهای همه‌شمول، لویه جرگه برگزار شود؛
- آتش‌بس در اجندای گفتگوها شامل باشد؛
- جلوگیری از تلفات ملکی، اولویت هر دو جانب می‌باشد؛
- فعالیت جوامع مدنی، آزادی بیان و تعلیم و تربیه باید در چهارچوب ارزش‌های اسلامی باشد؛
- در مورد حقوق زنان و مبارزه با خشونت علیه زنان تاکید صورت گرفت؛
- حفظ و نگهداری اماکن عامه مانند مکاتب، مراکز صحی و زیربناهای کشور لازمی می‌باشد و هر کسی که بر ضد آن اقدام می‌کند باید محاکمه شود.[5]

## پیش شرطهای طالبان

نمایندگان طالبان در کنفرانس پگواش با صدور بیانیه‌ای ایجاد دفتر رسمی، لغو تحریم‌های سازمان ملل متحد علیه این گروه و حذف اسامی آنها از لیست سیاه، آزادی زندانیان آن‌ها و پایان تبلیغات علیه این گروه را از جمله پیش شرطهای مذاکرات صلح افغانستان اعلام کردند. طالبان گفتند که بدون برداشتن گام‌های مقدماتی، گفتگوهای صلح نتیجه نمی‌دهد.

در بیانیهٔ طالبان آمده بود که «امارت اسلامی بر ای دستیابی به حق و اهداف بلند، جهاد را شروع کرده است نه برای دستیابی مادیات. امارت اسلامی زمانی متعهد به صلح است که هدف آ ن، پایان اشغال خارجی‌ها وایجاد یک نظام اسلامی مستقل باشد.»

با این هم طالبان آمادگی مشروط خود را برای گفتگوها با حکومت افغانستان نشان دادند و این خود یک گام جدید و امیدوار کننده است.

[5] Pajhwok, Doha meeting calls for end to military confrontation, 25 Jan 2016

## تنازل در موقف طالبان

طالبان پیش از این روی این نکته تاکید می‌کردند که حکومت افغانستان فاقد صلاحیت است و گفتگوهای صلح باید با امریکا و ناتو صورت بگیرد، ولی در کنفرانس اخیر پگواش در این موقف طالبان تغییر احساس شد. آنان مشکلات افغانستان را به دو دسته (مسائل خارجی و داخلی) تقسیم کردند. به گفتهٔ آنان، مسائل مربوط به خارجی‌ها مخصوصا امریکا، باید به طور مستقیم میان طالبان و امریکا مورد بحث قرار گیرد. به گفتهٔ آنان، نیروهای خارجی باید افغانستان را ترک گویند و به مردم افغانستان این فرصت را بدهند تا سرنوشت خود را خودشان تعیین کنند. اما در مورد مسائل مربوط به افغان‌ها معتقد اند که خود افغان‌ها آمادگی و توانایی حل این مسائل را دارند. بنابراین طالبان به نحوی آمادگی مشروط را به گفتگوها با حکومت افغانستان نیز نشان دادند. عوامل تنازل در موقف طالبان را می‌توان چنین برشمرد:

**اعلام خروج نیروهای خارجی:** بخش اعظم نیروهای ناتو و امریکا در پایان سال ۲۰۱۴ افغانستان را ترک کردند و ماموریت غیرجنگی ناتو زیر نام حمایت قاطع آغاز شد. این کار روی موقف طالبان در مورد صلح تاثیر گذاشت.

**تلفات افغان‌ها:** در سال ۲۰۱۵ مسؤولیت تامین امنیت همه مناطق افغانستان به افغان‌ها سپرده شد و اکنون در هر دو جانب جنگ، افغان‌ها کشته می‌شوند که طالبان نیز از این وضع راضی نیستند و نمی‌خواهند به کشتار افغان‌ها ادامه داده شود.

**گروه داعش:** در اوایل سال ۲۰۱۵ گروه داعش رسماً در افغانستان اعلام موجودیت کرد و پس از آن درگیری‌هایی نیز میان طالبان و جنگجویان داعش صورت گرفت و طالبان اکنون از این ناحیه نیز نگران اند.

**خسائر جنگ:** به شمول طالبان همه افغان‌ها از جنگ خسته شده‌اند و می‌خواهند معضل کنونی افغانستان را از راه گفتگوها حل نمایند.

## سیاست داخلی و خارجی طالبان

طالبان در بیانیهٔ کنفرانس پگواش اعلام کردند که متعهد به فعالیت‌های مدنی، آزادی بیان و حقوق زنان در پرتو قوانین اسلامی، منافع ملی و ارزش‌های اسلامی هستند. در بیانیهٔ طالبان آمده است که فراهم آوردن تحصیل برای فرزندان کشور، محافظت از تاسیسات ملی و دارایی‌های منافع عمومی، حمایت از تمام پروژه‌های منافع عمومی، شامل پروژ ۀ تاپی با هدف پیشرفت کشور، رفاه و سعادت مردم حمایت می‌کند[6].

همچنان طالبان در حالیکه کشورهای آسیای میانه، روسیه، چین و ایران از وضعیت افغانستان نگران اند، سیاست خارجی خویش را نیز روشن ساختند. آنان گفتند که سیاست مداخله در امور داخلی کشورهای دیگر را ندارند و از کشورهای دیگر نیز چنین توقع دارند.

طالبان یک بار دیگر تنها نهاد مسئول برای انجام مذاکرات صلح را دفتر سیاسی خود نامیدند.

## واکنش حکومت افغانستان

هرچند نشست پگواش یک نشست غیررسمی بوده و نماینده‌گان رسمی حکومت در آن اشتراک نداشتند، ولی گفته می‌شود که رئیس جمهور غنی پیامی را به این کنفرانس فرستاده بود. در پیام رئیس جمهور غنی آمده بود که حکومت افغانستان تحریک طالبان را به عنوان "مخالفین سیاسی" حکومت می‌شناسد و برای گفتگوهای مستقیم با آنان آماده‌گی دارد.

از سوی دیگر، ظفر هاشمی سخنگوی رئیس جمهور در یک نشست مطبوعاتی گفت که شماری از پیش شرط‌های طالبان صلاحیت جامعهٔ جهانی است. در عین حال او تاکید کرد که حکومت افغانستان تنها با گروه‌هایی گفتگو خواهد کرد که از خشونت دست بردارند و در مقابل کسانی که خشونت می‌کنند، جنگ ادامه خواهد داشت.

به گفتهٔ او، حکومت افغانستان موقف روشن در مورد پروسهٔ صلح دارد و اکنون نیز روی همان موقف خود تاکید دارد و دست‌آوردهای یک و نیم دههٔ گذشته و قانون اساسی قابل معامله نخواهد بود.

از سوی دیگر شهزاده شاهد سخنگوی شورای عالی صلح می‌گوید که برخی از پیش شرط‌های طالبان پذیرفتنی است.

---

[6] برای متن کامل بیانیه، به وب سایت رسمی طالبان مراجعه نمایید: http://alemara1.org/?p=39650

## کنفرانس پگواش و مذاکرات چهارجانبه

جواب این سوال که کنفرانس اخیر پگواش روی گفتگوهای چهارجانبهٔ صلح سایه خواهد افکند یا خیر؟ در مرحله‌ای از گفتگوهای چهارجانبه روشن خواهد شد که حکومت افغانستان در گفتگوهای رو در رو با طالبان به میز مذاکره بشیند.

درحالیکه طالبان نماینده‌گان رسمی خود را به کنفرانس پگواش فرستادند ولی حکومت افغانستان هیچ نمایندهٔ رسمی را به این نشست اعزام نکرد. این به معنای آن است که حکومت به مذاکرات چهارجانبه اهمیت بیشتر می‌دهد و امیدهای خود را با این مذاکرات بسته است.

بالعکس از بیانیهٔ طالبان در کنفرانس پگواش و تبصره‌های طالبان در وب سایت رسمی آنان، چنین می‌نماید که این گروه به مذاکرات چهارجانبه امیدوار نیستند و به همین دلیل در کنفرانس پگواش چراغ سبز گفتگوهای مستقیم را به حکومت دادند. هرچند حکومت افغانستان نیز این تغییر را درک نموده و در روز دوم کنفرانس پیام خود را به کنفرانس پگواش فرستاد، ولی با آن هم ابراز نظرها و مواقف حکومت بیانگر آن نیست که در آیندهٔ نزدیک گفتگوهای رو در رو با طالبان را آغاز خواهد کرد.

اگر به مواقف حکومت افغانستان و طالبان در چند هفتهٔ اخیر توجه نماییم، حکومت افغانستان بیشتر به مذاکرات چهارجانبه خوشبین است؛ ولی طالبان به کنفرانس پگواش و کنفرانس‌های مشابه به آن که در آن رو در رو با جهت مقابل گفتگو کنند و نقش کشورهای دیگر در حد تضمین و همکاری محدود باشد، تمایل دارد.

## چه باید کرد؟

با به قدرت رسیدن اشرف غنی، طالبان نیز امیدهای خود را مانند سایر مردم افغانستان با حکومت جدید بستند، اما با گذشت یک و نیم سال اکنون وضعیت خیلی بدتر به نظر می‌رسد و بی‌اعتمادی میان طالبان و حکومت بیشتر شده است.

در حالیکه حکومت و طالبان در بی‌اعتمادی به یکدیگر به سر می‌برند، نیاز جدی به یک جهت میانجی واقعی که برای هر دو جهت قابل قبول باشد، دیده می‌شود. به همین دلیل، شرکت کننده‌گان کنفرانس قطر نیز تاکید کردند که برای پیشبرد پروسهٔ صلح افغانستان به یک جهت میانجی نیاز است که برای همه جهت‌های درگیر قابل قبول باشد تا در مذاکرات صلح میان حکومت افغانستان و طالبان نقش میانجی را ایفا نماید.

# افغانستان؛ د نړۍ دویم فاسد هېواد



د روڼتیا نړیوال سازمان د نړۍ د فاسدو هېوادونو په تړاو د ۲۰۱۵ کال کلنی راپور خپور کړ او د دغه وروستي راپور له مخې شمالي کوریا، سومالیا او افغانستان د نړۍ د ۱٦۷ هېوادونو په منځ کې، د تر ټولو فاسدو هېوادونو په توګه وپېژندل شول. د دغه راپور له مخې، افغانستان د نړۍ دویم فاسد هېواد شو.

د روڼتیا نړیوال سازمان لومړنی سازمان نه دی، چې د افغانستان د اداري فساد په اړه سروې‌ګانې خپروي، بلکې له دې وړاندې هم د افغانستان روڼتیا څار، ایشیا فاونډېشن او د ملګرو ملتونو د مخدره توکو او جرایمو ضد ادارو په دې اړه راپورونه خپاره کړي دي.

دا چې په افغانستان کې د اداري فساد په تړاو نورې سروې‌ګانې څه وايي؟ ولې په افغانستان کې اداري فساد ورځ تر بلې زیاتېږي؟ او په تېر یوه کال کې د ملي وحدت حکومت د اداري فساد په برخه کې څه کړي؟ دلته پرې شننه شوې ده.

## په افغانستان کې اداري فساد ته لنډه کتنه

د افغانستان د اداري فساد په تړاو دواړو داخلي او بهرنيو ادارو خپل رپوټونه خپاره کړي دي. د افغانستان روڼتيا څار اداره داخلي اداره ده او ايشيا فاونډيشن او د روڼتيا نړيوال سازمان او د ملګرو ملتونو د مخدره توکو او جرايمو ضد اداري بيا بهرنۍ اداري دي، چې په دې اړه يې رپوټونه او سروې ګانې خپرې کړې دي.


دا ټولې اداري په هېواد کې د اداري فساد پر پراخ شتون خپلې څېړنې لري. دلته موږ د ايشيا فاونډېشن، د افغانستان د روڼتيا څار او د روڼتيا نړيوال سازمان د ادارو، څېړنې او سروې ګانې رااخلو.

د ايشيا فاونډېشن د کلنيو سروې ګانو له مخې، له ۲۰۰٦ کال څخه تر ۲۰۱۴ کال پورې د خلکو په ورځني ژوند کې، اداري فساد د يوې مهمې ستونزې په توګه مطرح شو. په ۲۰۰٦ کال کې د ۴۲ سلنه خلکو په ګمان اداري فساد لويه ستونزه وه؛ خو په ۲۰۱۴ کال کې د ٦۲ سلنه خلکو په اند، د اداري فساد ستونزه نوره هم زياته شوه او اداري فساد د دوی د ورځني ژوند لويه ستونزه وه.

همدا راز له ۲۰۰٦ کال څخه تر ۲۰۱۴ کال پورې د ايشيا فاونډېشن پوښتن‌ليک د اداري فساد په اړه نورې برخې هم درلودې؛ لکه ستاسو په ګاونډ، په سيمه‌ييزو چارواکو، په ولايتي حکومت او په ټول افغانستان کې د اداري فساد ستونزې ته په کومه سترګه ګورئ؟ که د دغو پوښتن‌ليکونو ځوابونو ته ځير شو؛ نو د خلکو په ګمان د اداري فساد ستونزه پراخېږي او په ۲۰۱۴ کال کې يې سلنه، د نورو کلونو په پرتله تر ټولو زياته ده.

په بل اړخ کې د افغانستان د روڼتيا څار اداري هم له ۲۰۰۷ کال راهيسې د افغانستان د اداري فساد پرضد څلور سروې ګانې خپرې کړې دي. د دغو سروې ګانو له مخې، په هېواد کې اداري فساد هر کال زيات شوی دی. په ۲۰۰۷ کال کې د هېواد د وګړو ترمنځ تقريباً ۴۷۷ مليون ډالره رشوت ورکړل شو او په ۲۰۱۰، ۲۰۱۲ او ۲۰۱۴ کلونو کې بيا په ترتيب سره تر ۱۰۰۰، ۱۲۵۰ او ۱۹۴۲ مليون ډالرو پورې رشوت ورکړل شو. (وګورئ، توضيحي رسم-۱)

**توضیحي رسم- ۱: په افغانستان کې اداري فساد**




*ماخذ: د افغانستان د روڼتیا څار اداري د ۲۰۰۷ کال، ۲۰۱۰ کال، ۲۰۱۲ کال او ۲۰۱۴ کال سروې‌ګانې*

## د اداري فساد په اړه د روڼتیا نړیوال سازمان سروې‌ګانې

د شفافیت نړیواله اداره یوه نړیواله مدني ټولنه ده، چې بنسټیزه موخه یې د اداري فساد مخنیوی دی. دغه اداره هر کال د نړۍ له ۱۰۰ څخه په ډېرو هېوادونو کې د اداري فساد په اړه سروې‌ګانې کوي او په دې لړ کې ټولو هېوادونو ته نومرې ورکوي، بیا د دغو هېوادونو د درجه بندۍ یو لېست جوړوي او په خپل کلني راپور کې یې خپروي.

که چیرې موږ له ۲۰۰۵ کال راهیسې د دغې اداري کلنیو راپورونو ته وګورو؛ نو جوته به شي، چې افغانستان کال په کال د اداري فساد پر ضد مبارزه کې ډېرې کمې نومرې اخلي او په لیکلړ کې یو له وروستنیو هېوادونو څخه راځي. په ۲۰۰۵ کال کې افغانستان په اداري فساد کې د اوس پر پرتله په ښه موقعیت کې و. دغه کال د افغانستان ټولې نومرې ۲.۵ وې او د نړۍ له ۱۵۹ هېوادونو څخه ۱۱۷ نمبر راغلی و. خو په راتلونکو کلونو کې د افغانستان نومرې د کمېدو په لور ولاړې او له همدې کبله په نړۍ کې د تر ټولو فاسدو هېوادونو له جملې څخه یو شو.

په اداري فساد کې د افغانستان نومرې له ۲۰۰۷ کال څخه تر ۲۰۰۹ کال پورې د کمېدو په لور ولاړې (په ۲۰۰۷ کال کې د افغانستان نومرې ۱.۸، په ۲۰۰۸ کال کې ۱.۵، په ۲۰۰۹ کال کې ۱.۳ وې)؛ خو له ۲۰۱۰ کال څخه تر ۲۰۱۱ کال پورې بیا په تدریجي ډول د اداري فساد پر ضد مبارزه کې د افغانستان نومرې بېرته په لوړېدو شوې. لامل یې دا کېدای شي، چې په ۲۰۰۸ کال کې په افغانستان کې له اداري فساد سره د مبارزې د ستراتیژۍ د تطبیق قانون جوړ شو او د همدغه قانون له مخې په هېواد کې د څارنې عالي اداره هم جوړه شوه (په ۲۰۱۰ کال کې یې نومرې ۱.۴ او په ۲۰۱۱ کال کې بیا ۱.۵ شوې).

د دغو راپورونو له مخې، له ۲۰۱۲ کال څخه تر ۲۰۱۳ کال پورې، افغانستان یو ځل بیا په اداري فساد کې ډېرې کمې نومرې واخیستې او په اداري فساد کې د وروستیو هېوادونو له جملې څخه شو (په ۲۰۱۲ کال کې ۰.۸ او په ۲۰۱۳ کال کې یې د اداري فساد پرضد مبارزه کې ۰.۸ نومرې واخیستې) خو کله چې اشرف غني واک ته ورسېد، نو د هغه د ځینو دریځونو له کبله، د بیلګې په ډول د کابل‌بانک د قضیې بیا پرانېستل، د ملي تدارکاتو کمیسیون جوړول او په اداري فساد تورن کسان ممنوع الخروج اعلانول او څارنوالۍ ته د دوی د معرفي کولو له کبله، په ۲۰۱۴ کال کې د اداري فساد پرضد مبارزه کې د افغانستان نومرې بیا ښې شوې او له ۰.۸ څخه ۱.۲ ته پورته شوې.

په ۲۰۱۵ کال کې د اداري فساد پرضد د حکومت کړنلاره تر ډېره همغږې نه وه او له همدې کبله یې له لسو څخه ۱.۱ نومرې ترلاسه کړې او په نړۍ کې دویم فاسد هېواد شو. (وګورئ، جدول-۱)

**جدول-۱: په نړیواله کچه په اداري فساد کې د افغانستان وضعیت (۲۰۰۵-۲۰۱۵)**

| کال | له لسو څخه د افغانستان نومرې | په نړۍ کې یې وضعیت |
|---|---|---|
| 2005 | 2.5 | 117/159 |
| 2007 | 1.8 | 172/180 |
| 2008 | 1.5 | 176/180 |
| 2009 | 1.3 | 179/180 |
| 2010 | 1.4 | 176/178 |
| 2011 | 1.5 | 180/183 |
| 2012 | 0.8 | 174/176 |
| 2013 | 0.8 | 175/177 |
| 2014 | 1.2 | 172/175 |
| 2015 | 1.1 | 166/167 |

*ماخذ: له ۲۰۰۵ کال څخه تر ۲۰۱۴ کال پورې د رونتیا نړیوال سازمان (Transparency International) راپورونه*

## د حکومت غبرګون

که څه هم افغان حکومت د روڼتیا نړیوال سازمان پر دغه راپور نیوکه نه ده کړې؛ خو د اداري فساد پرضد یې خپلې هڅې صادقې او د اداري فساد پرضد خپل هوډ پیاوړی بللی دی. په دې تړاو د افغانستان اجرائیه رییس ډاکتر عبدالله وایي، چې له اداري فساد سره د پریکنده مبارزې لپاره د ملي یووالي حکومت په هوډ کې هېڅ شک نه شته؛ خو یو لړ داسې مسائل شته چې هغه بیا په قوانینو پورې اړه لري او موږ پرې کار کوو.

د دې ترڅنګ د افغان ولسمشر ویاند ظفر هاشمي د روڼتیا نړیوال سازمان لهخوا د اداري فساد په اړه د وروستي راپور په غبرګون کې ویلي، چې افغان حکومت د اداري فساد پرضد ډېر اقدامات کړي. په دغو اقداماتو کې یې د ملي تدارکاتو د کمیسیون له مخې، په ډېرو قراردادونو کې د فساد مخه نیولې. حکومت د لومړي ځل لپاره د دفاع وزارت د تېلو لومړنی ستر قرارداد د شفافیت په موخه خپور کړ. عدلیه وزارت چې په تېر کې د فساد ستره منبع وه، اوس له اصلاحاتو څخه تېرېږي. په تېرو دوو میاشتو کې د استیناف محکمې تقریباً ۱۳۰ قاضیان لرې کړل شوي او ترڅنګ یې یو شمېر نور سابقهداره قاضیان هم لرې کړل شوي دي. د حکومت د اداري فساد ضد تګلارې دویم عنصر حساب ورکونه ده، حکومت تر اوسه لږ تر لږه ۱۰ داسې چارواکي نیولي، چې په اداري فساد کې ښکېل وو او په دې توګه حکومت په تېر یوه کال کې د فساد پرضد ډېرې هلې ځلې کړې دي.

په بل اړخ کې بیا خلکو هم له فساد سره په مبارزه کې او د فاسدو خلکو په افشا کولو کې منفي رول لوبولی او د رشوت له ورکولو څخه یې کمه ډډه کړې ده.

## د اداري فساد پر ضد د حکومت ناهمغږې کړنلاره

که څه هم افغان حکومت په تېر یوه کال کې د اداري فساد پرضد ځینې ګامونه پورته کړي او د اداري فساد پرضد مبارزه یې خپل لومړیتوب ګڼلی دی؛ خو بیا هم تر اوسه پورې نه د لندن په کنفرانس کې بیان شوي اصلاحات راوستل شوي او نه هم افغان حکومت په یوه خوله د اداري فساد پرضد همغږی دی.

د کابلبانک د قضیې، چې د افغانستان د بانکي تاریخ تر ټولو ستره قضیه ده، لوی مجرم خلیل الله فېروزي د حکومت لهخوا ونیول شو او پر بند محکوم شو؛ خو وروسته بیا د افغان ولسمشر د حقوقي سلاکار محمد علي محمدي لهخوا پرېښودل شو او ښارجوړونې وزارت، د یوه ښارګوټي قرارداد ورسره لاسلیک کړ. د سمارت په نوم د

دغه ښارګوټي د قرارداد د لاسلیک کولو پرمهال یو شمېر جګپوړي دولتي چارواکي لکه په سیاسي اصلاحاتو کې د ولسمشر ځانګړی استازی احمد ضیاء مسعود او د ښارجوړونې وزیر هم موجود وو. دغه حالت په خلکو کې د اداري فساد پرضد د حکومت کړنلاره خورا ضعیفه وښودله.

د دې ترڅنګ د حکومت دننه داخلي اختلافاتو هم د اداري فساد پرضد تګلارې سیورى غوړولی او له کبله یې همدا داخلي اختلافات د اصلاحاتو په راتګ او د اداري فساد پرضد هلو ځلو کې ستر خنډ بلل کېږي.

له اداري فساد سره د رغندې مبارزې لپاره اړینه ده، چې حکومت لومړی د اداري فساد پرضد مبارزه جدي لومړیتوب وګرځوي، په دې لاره کې د حکومت کړنې همغږې شي او د اداري فساد پرضد یو شمېر قانونونه او یوه داسې خپلواکه اداره رامنځته کړي، چې بشپړ واک ولري.

پای

**ارتباط با ما:**

ایمیل: info@csrskabul.com csrskabul@gmail.com

وب سایت: www.csrskabul.com - www.csrskabul.net

شمارۀ تماس دفتر: 784089590 (93+)

**ارتباط با مسؤولین:**

دکتور عبدالباقي امین، رئیس مرکز مطالعات استراتژیک ومنطقوی: 789316120 (93+) abdulbaqi123@hotmail.com

حکمت الله ځلاند، مسؤول تحقیقات و نشرات: 775454048 (93+) hekmat.zaland@gmail.com

**یادآوری:** لطفا نظرات و پیشنهادات خود را جهت بهبود مطالب این نشریه به ما ارسال دارید.